PRESS RELEASE

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه د مسلمانانو پر وړاندې د تبعيض او کرکې سره د مبارزې د غونډې ګد کوربتوب کوی

*کابل، **17** جنوری **2017***

نن په ملګرو ملتونو کې د اروپايي ټولنې پلاوي، کانادا، امریکا و د اسلامی همکاریو سازمان په ګډه په نیویارک کې د مسلمانانو پر وړاندې د تبعیض او کرکې په وړاندې د مبارزې غونډه جوړوي. په دغه غونډه کې د اروپايي ټولنې لخواه ستاروو لامبرندیز د بشري حقونو په برخه کې د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی ګډون کوي.

دغه یوه ورځنۍ غونډه د نړۍ په کچه د مسلمانانو پر وړاندې تبعیض او کرکه د دولتي بنسټونو، غیر دولتي بنسټونو او د خصوصي سکتور د استازو له نظره څیړي او په راتلونکي کې له دغه پدیدې سره د مبارزې په موخه ځانګړي وړاندیزونه وړاندې کوي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړی استازی فرانز مایکل میلبن وایی: " مونږ په عامه توګه نه یواځې په اروپا بلکه په ټول نړۍ کې د مسلمانانو په وړاندې د تبعیض او د کرکې د زیاتوالي شاهدان یو. هیڅ ډول مذهبي تبعیض د منلو وړ نه دی او اروپايي ټولنه ژمنه ده ترڅو دغه پدیدې سره مبارزه وکړي. اروپا یوه پراخ قومي او پراخ مذهبي سیمه ده او اروپايي ټولنه د بشري حقونو څخه د ساتنې پر بنسټ جوړ شوی ده. هیڅ څوک نباید د جنسیت، نژاد، قومیت، مذهب ، باورونو او جنسي تمایلاتو په خاطر تبعیض له سره مخامخ شي. دا یوه نړیوال اصل ده او باید ټوله نړۍ د اروپايي ټولنې او افغانستان په ګډون ورته درناوی وکړي.

اروپايي ټولنه او په افغانستان کې غړي هیوادونه یې د بشر د حقونو څخه په دفاع کې مهم رول لري. اروپايي ټولنه خپل ټولو پراختیایی پروګرامونو کې بشري حقونو څخه ملاتړ کوي او د یو لړ پروژو له لارې په دغه برخه کې د پوهاوي د زیاتوالي په برخه کې کار کوي.

د لا ډیرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنیو سلاکار
عبدالله یادګاري
ټلیفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کیل اندرسن
د رسنیو او عامه اړیکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 701 794 (0) 93+
ایمیل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu